AFGHAN DIASPORA UNITY COUNCIL
2020

**سپتمبر 3 کال 2020**

**په قطر کی د تحریک طالبان سیاسی دفتر**

ګرانو ورونو زمونږ سلامونه او نیکی هیلی ومنی!

له څلورو لسیزو ډیره موده کیږي چې افغانستان د جګړې په اور کې سوزي اود ژور بحران سره مخامخ دی. پدې موده کې ، په میلیونونو افغانان وژل شوي، ټپیان شوي اویا کډوال شوي دي. عامه تأسیسات،د خلکو کورونه،مخابراتي شبې،د اوبواوبرېښنا بندونه،سرکونه او هوایی ډګرونه یا له مخې وران شوي یا یې پوره زیان لیدلی، همدا شان عامه ملکیتونه، کانونه، ځنګلونه او باغونه لوټ شوي.

له بده مرغه، د سولې خبرو لپاره لرلید هم خورا روښانه او د باور وړ ندي. د ډېرو بهیردافغان اړخونو ترمینځ د خبرودېپل څخه وړاندې تر دې دمه پورې ثابته کړې چې د جګړې پای ته رسیدو (اوربند) او د دوه اړخیز باور د فضا رامینځته کېدو پاره لا مناسبه فضا نه ده رامنځته شوې.

مونږ د بهر مېشتو افغانانو د پیوستون شورا د نړی بېلابېلو هېوادونو کې د مېشتو 110 مدني ټولنو اوسیاسي، ټولنیز، علمي او ادبي فعالو شخصیتونو استازیتوب کوو. د شورا تر ټولو لوړ مأموریت دادی چې د ملی ګټو لپاره د بهر مېشتو افغانانو د سترو انساني وړتیاوو، تحصیلي او کاري تجربو، سیاسي - اقتصادي - ټولنیزي پوهې او د هغوی د ژور ملي احساس څخه ګټه واخیستل شي.د دې شورا دجوړېدو موخه د هغو اسانتیاوو برابرول دي چې پرمټ یې د افغانستان د ملی ګټو او ملي یوښتنو لپاره د بهر مېشتو افغان- ټولنو اومدني فعالینو په استازیتوب د دوی ګډ غږ هېوادوالو او نړیوالوته ورسېږي .

د سولی د خبرو په هکله زمونږ دریځ داسی دی:

پداسي حال کې چې د سولې مذاکراتو محور د هېواد په سیاسی او ټولنیز ژوندکې د طالبانو د تحریک برابره برخه اخیستنه جوړوي، سوله یوازې د دواړوخواوو په ښه نیت لاس ته راتلای شی؛

.په داسي حال کې چې په ملیونونه افغانان د رواني جګړې او وینې تویونې له امله په بهر کې ژوند کوي، په بهرکې مېشت ملیوني افغان دیاسپورا دهیواد د سیاسي ثبات او سولې په پروسو کې له ګډون څخه لرې ساتل شوي دي؛

په افغانستان کې د سولې راوستو او وروروژني ته د پای ټکی ایښېدو لپاره د دولت رسمي کړنو په عمل کې د پام وړ پایلې ندي ترلاسه کړي او له ګڼ شمېرخنډونو سره مخ دي. د سولي راوستل یوازې د دولتي چاړواکودنده نده، اړتیا ده چې په یوې ملي پروسې بدله شي. ددغه بهیر لپاره اړینه ده چې د افغانستان نفوذ لرونکي ملي شخصیتونه د وطني سولي لپاره خپل قوتونه منسجم او همغږي کړي اود پیوستون یو پراخ پلاتفورم په جوړولوخپلوهلوځلو ته سمون ور کړي؛

له همدې امله د بنسټپالی د مخنیوي اود تروریزم په وړاندې د ګډې مبارزې په موخه او همدارا ز د سیاستوالو، استخباراتو او بهرنیو ځواکونو د بریدونو، توطیو، دسیسو او کړنود شنډولوپه موخه باید د بهر میشته افغان دیاسپورا د اجماع لپاره ژر تر ژره عملي ګامونه واخیستل شي.

د بهرمېشتوافغانانو د پیوستون شورا په مناسب موقف کې ده او په دې برخه کې باید خپل تاریخي رول ولوبوي؛

اوس مهال د بهرمېشتو افغانانود پیوستون شورا په وړاندې لاندې ببړنی دندې پرتې دي:

- ځرنګه چې په پام کې ده چې  په نیږدې راتلونکي  موده کې به بین الافغاني مذاکرات له یوې خوا دافغانستان دولت او د هېواد دننه سیاسي ډلو ترمینځ اوله بلې خوا په قطر کې د طالبانو د استازو سره  پېل شي، د دیاسپورا میلیونوافغانانو ته په مذاکراتو کې د ګډون حق په پام کې ندی نیول شوی؛

- د دریېم اړخ په توګه په بین الافغاني خبرو اترو کې د بهر مېشتو افغانانو په استازیتوب دپیوستون شوراء د استازو د ګډون حق ترلاسه کول، باید ددغې شوراء د کار بېرنی اجنداءپه توګه په نظرکې ونیول شي.

- دپورته وړاندیزد پلي کېدو لپاره باید د بهر مېشتو افغانانو د پیوستون شوراء لخوا دیو پروګرام په چوکاټ کې ژره تر ژره د پراخ کمپاین اوپه بهر کې د افغاني ټولنو، سیاسي او فرهنګي شخصیتونوسره دنیږدې اړیکو ټینګولو لپاره بندوبست وشي تر څو په پایله کې د ټولنو مشرانو، دپیژندل شویو سیاسي، علمي او فرهنګي شخصیتونواستازو سره حضوري او انلأین کانفرانس جوړ شي؛ او

- اړینه ده چې په دې برخه کې یوې هوکړې ته رسیدو لپاره د افغانستان دولت، په قطر کې د طالبانو استازولي،د متحده ایالاتو، اروپایي ټولنې اوذیدخله هېوادونه لکه هندوستان ، روسیه ، سعودي عربستان ، قطر ، ایران او پاکستان سره مستقیې خبرې پیل شي.

د بهرمېشتوافغانانو د پیوستون شورا مشر تابه په احترام سره ستاسو نه تقاضا لرى چې د پورتنی وړاندیز ملاتړ وکړی.

په درناوی.



ډاکتر نوراحمد خالدی

د بهرمېشتو افغانانود پیوستون شوراء  رییس

ADUC Secretariat

Brisbane, Australia

Contact: +61 414566174

Email: noor.khalidi@gmail.com